Office of the Deputy PM for Economic Affairs
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستـان اقتصـادي پـرمختګ

دربیم کال - ۱۲ مه ګڼه | پرله‌پسې ۷۴مه ګڼه

## خبرپاڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۴/۴



په افغانســتان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصــادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کیــږي. د افغانســتان اقتصادي پرمختــګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروســتیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- قزاقستان له افغانستان سره د سوداګرۍ او پانګونې برخه کې د همکاریو د پراختیا لپاره نوي ګامونه اخلي

۲- د افغان زعفرانو صادرات پراخ شوي؛ په دربیو میاشتو کې نږدې ۴,۵ میلیونه ډالر عاید

۳- بامیان کې د تولیدي کارخونو پراختیا؛ د اقتصادي ودې او کارموندنې له پاره مهم ګام

## قزاقستان له افغانستان سره د سوداګرۍ او پانګونې برخه کې د همکاریو د پراختیا له پاره نوي ګامونه اخلي



افغانســتان او قزاقســتان د اقتصــادي همکاریو د پراختیا او د ســوداګریزو اړیکو د پیاوړتیا له پــاره د نویو اقداماتو پر عملي کېدو تینګار کــړی دی. په همدې موخه د قزاقســتان د لومــړي وزیــر مرســتیال او د اقتصاد وزیر ښاغلی سریک ژومانګارین د رواني اوونۍ په سرکې کابل ته راغلی و او د افغانستان اسلامي امارت د رییس الوزراء محترم ملا محمد حسن اخوند او د ریاست الــوزراء اقتصــادي مرســتیال محتــرم ملا عبدالغني برادر اخوند په ګډون یې یو شــمېر لوړ پــوړو امارتي مســوولینو ســره ولیــدل. محترم ملا عبدالغنــي برادر اخوند ســره لیدنــه کــې کــې قزاقــي لــوري د افغانســتان په اقتصــادي ظرفیتونو کې د پانګونــې او ســوداګرۍ د پراختیا له پاره خپل چمتووالــی څرګنــد کړ.همــداراز، قزاقستان پلان لري چې په کابل کې د خپلو درملــو د پلــور ځانګــړې ځانګــه او د ســوداګرۍ خونه پرانیــزي. دا چــاره به د دواړو هېوادونــو د خصوصي ســکتورونو ترمنځ د اړیکو په پراختیا او د سوداګریزو همکاریو په زیاتوالي کې مهم رول ولوبوي. له بلې خــوا، قزاقي پلاوي د افغانســتان د کانونو په ســکټور کې د پانګونــې لېوالتیا هــم وښــوده. د کرومایټ او زینــک ډېرو د اکتشــاف او اســتخراج، د کیمیاوي سرې د تولید او د مالي همکاریو د پراختیا له پاره د بانکي حسابونو پرانیســتل هغه برخې دي چې قزاقســتان پــه کې د عملــي همکاریو ژمنه کړې ده. ســربېره پر دې، د مزارشریف - هرات - کندهار - سپین بولدک د اوسپنې پټلــۍ د ســترې پــروژې پــه جوړولــو کې د همــکارۍ اعــلان د ســیمه ییــز اتصــال او ترانزیتــي اړیکــو د پیاوړتیــا لــه پــاره مهم پرمختــګ ګڼــل کېــږي. قزاقســتان چمتووالــی ښــودلی او ویلي یې دي چې پر افغاني توکو به ګمرکي مالیې راکمې کړي. دا اقدام کولی شــي د افغانستان صادراتو تــه نــوي بازارونــه پرانیــزي او د هېــواد د ســوداګریز توازن په ښه والي کې اغېزناک تمام شــي. د دغو همکاریو عملي کېدل به د پانګونې، سوداګرۍ، ترانزیټ او سیمه ییــز اقتصــادي اتصــال پــه برخــه کــې د افغانســتان لپاره نوي اقتصادي فرصتونه رامنځته کړي.

## د افغان زعفرانو صادرات پراخ شوي؛ په دریو میاشتو کې نږدې ۴,۵ میلیونه ډالر عاید

زعفــران د افغانستان لــه هغــو کرنیــزو محصولاتو څخه دي چې په وروســتیو کلونو کې یــې د نړۍ په بازارونو کــې ځانګړی ځای خپــل کــړی دی. د افغانســتان د زعفرانــو کنسرسیوم د معلوماتو له مخې، د کیفیت د لوړوالي، معیاري تولید او مناسبې بسته بندۍ له امله د افغان زعفرانو صادرات د پام وړ زیات شــوي او اوس یې په مســتقیم ډول نړیوالو بازارونو ته لاره موندلې ده. د یاد کنسرسیوم مســوولین وایي چې د افغانســتان زعفران امریکا، اروپایي هېوادونو، چین او یو شــمېر عربي بازارونــو ته صادرېــږي او د نړۍ ډېرې پېرودونکي د افغان زعفرانو غوښتنه کوي. د دوی پــه خبــره، د کیفیت ســاتنې لــه پاره د زعفرانو هره محموله د لابراتواري ازموینو له بشپړېدو وروسته بازار ته وړاندې کېږي، چې دا کار د نړیوالــو معیارونــو د پــوره کولو او د مصرفوونکو د باور د جلبولو سبب شوی دی. افغان زعفران د لــوړ کیفیت، ځانګړي رنګ، بوی او خوند له املــه د نړۍ له غوره زعفرانو ګڼــل کېــږي. همدغه ځانګړتیاوې ســبب شــوې چې د افغانســتان زعفران په نړیوالو نندارتونونــو او بازارونــو کې د پام وړ شــهرت ترلاســه کړي او د صادراتو کچه یې له یو کال بل ته لوړه شــي. د هــرات د ســوداګرۍ او پانګونې خونې د معلوماتو له مخې، د روان کال په لومړیو دریو میاشتو کې شاوخوا دوه زره او ۹۰۰ کیلوګرامه زعفران بهرنیو بازارونو ته صادر شوي، چې ارزښت یې نږدې څلور نیم میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي. دغه ارقام


د دې محصول د صادراتي ارزښت او نړیوالې تقاضا د زیاتوالي څرګندونه کوي. د هېواد د زعفرانو ټولنې د مسوولینو په وینا، هېواد کې په ۱۲ زره هکتاره ځمکه زعفران کرل شوي او



له ۸۰ زرو ډېر کسان په مستقیم او غیر مستقیم ډول د دې سکټور له لارې عاید ترلاسه کوي. زعفران د کوکنارو یو مناسب بدیل محصول هم بلل کېږي، ځکه لږې اوبو ته اړتیا لري، لوړ اقتصادي ارزښت لري او د کروندګرو د عوایدو په زیاتوالي کې مهم رول لوبوي. د زعفرانو د پروسس، بسته بندۍ، بازار موندنې او صادراتو په برخه کې د پانګونې له لارې کېدلی شي چې په نړۍ کې د افغانستان زعفران خپل موقعیت نور هم پیاوړی کړي او د صادراتو له لارې هېواد ته ډېر بهرني اسعار جذب شي.

# باميان کې د توليدي کارخونو پراختيا؛ د اقتصادي ودې او کارموندنې له پاره مهم ګام

په وروستیو کلونو کې د مرکزي افغانستان په بامیان ولایت کې د تولیدي فعالیتونو پراختیا د هېواد د اقتصادي ودې او خصوصي سکټور د پیاوړتیا په برخه کې د پام وړ پرمختګ بلل کېږي. د یاد ولایت د صنعت او سوداګرۍ ریاست د معلوماتو له مخې، د افغانستان اسلامي امارت له بیا واکمنۍ راهیسې په دغه ولایت کې ۳۲ بېلابېلې تولیدي کارخونې فعالې شوې دي چې د غالۍ اوبدلو، لاسي صنایعو، لبنیاتو د پروسس، وینځونکو توکو او نورو خوراکي محصولاتو د تولید په برخو کې فعالیت کوي. د دغو کارخونو جوړېدل نه یوازې د سیمه ییزو تولیداتو د زیاتوالي لامل شوي، بلکې سلګونو هېوادوالو ته یې د کار زمینه هم برابره کړې ده. په هره کارخونه کې له ۵۰ تر ۸۰۰ تنو پورې هېوادوالو ته د کار فرصتونه برابر شوي، چې دا چاره د بېکارۍ د کچې په راکمولو او د کورنیو د عایداتو په لوړولو کې مهم رول لري. په دغو کارخونو کې له یو میلیون ترلسو میلیونو افغانیو پورې



پانګونه شوې ده. دا پانګونه د دې څرګندونه کوي چې په هېواد کې خصوصي سکتور د تولیدي فعالیتونو په لور په چټکۍ روان دی او ثابتوي چې په هېواد کې د صنعتي ودې له پاره مناسب فرصتونه رامنځته شوي دي. دغه راز، د ۱۴۰۵ لمریزکال له پیل راهیسې په بامیان ولایت کې ۲۸۰ سوداګریزو شرکتونو ته د فعالیت جوازونه ورکړل شوي دي. دا چاره د پانګونې د تشویق او د اقتصادي فعالیتونو د پراختیا له پاره د مثبت پرمختګ نښې ګڼل کېږي. په بامیان ولایت کې د تولیدي کارخونو او سوداګریزو شرکتونو زیاتوالی د سیمې د اقتصاد د پیاوړتیا، د کارموندنې د فرصتونو د پراخېدو او د کورنیو تولیداتو د ودې څرګندونه کوي. د افغانستان اسلامي امارت د پانګوالو ملاتړ کوي او اړینې اسانتیاوې ورته برابروي. په دې اړه په ټول افغانستان کې د خصوصي سکتور د ښوونې په موخه لازم ګامونه پورته شوي دي. له لسیزو بې ثباتۍ وروسته په هېواد کې یو مرکزي او خپلواک نظام رامنځته شوی دی او هڅه کېږي چې ټول افغانستان متوازن پرمختګ وکړي، څو هېوادوال په خپل هېواد کې له کاري فرصتونو برخمن شي.